علامه عبدالحی حبیبی
۲۰۱۷/۱۱/۰۱

# د تاریخ دوې پاڼې
# امیر حمزه سیستانی

دغه سیستان چې اوس وچ ریګستانونه یا د اوبو ډنډونه دي یو وخت د ایشیا د مدنیت لوی مرکز او د مشهورو سیاسي، علمي او فکري حرکاتو زېږنتون ؤ، دلته لوی لوی ښارونه ودان وه، لوی لوی خلک پکښي پیدا کېدل، او د سیستان د عظمت دغه دوره دوه درې زره کاله د مغولو او تیمور تر تاړاکو پوري اوږده سوه.

په اسلامي دوره کښي چې عربي فاتحان دغې سیمې ته راورسېدل ددې ځای لوی پایتخت زرنګ ؤ، چې عربو زرنج وباله، او وروسته د خراسان د آزادئ لپاره  دلته ډېر لوی لوی حرکتونه پیدا سول. او یو ددغو حرکاتو څخه د حمزه سیستاني خروج ؤ، چې د عربو مؤرخانو دی خارجي بللئ دئ، او د هجرت په ۱۸۰ هـ کال ئې خپل مهم ملي او فکري حرکت شورو کړئ ؤ. حمزه د عبدالله زوی د زوطهماسپ له نسله د سیستان په رون او چول کښي پیدا سو، دی لوی او پوه او دلاور سړی ؤ، دده د پلار اصلي نوم د طبری په قول  اترک = آذرک شاری ؤ، چې د غرستان  د شارانو خاندان ته به منسوب وي.

حمزه په ۱۸۰ هـ په سیستان کښي د عباسیانو حکمران وواژه، او د حج په سفر رهي سو، ده په عربي سیمو کښي د خوارجو سره آشنایي پیدا کړه او چې بیرته راغئ، نو ټولو خارجي خلکو چې د خلف خارجي څخه پاته سوي وه، تر پنځو زرو تنو پوري دده سره بیعت وکړی او په امارت ئې ومانه.

د عباسیانو د خراسان حکمران علی بن عیسی خپل زوی عیسی د حمزه مقابلې ته راواستاوه مګر حمزه اوس غښتلي ملګري درلوده، او په ۱۸۲ هـ ئې عیسی خراسان ته وتښتاوه، او د زرنج ښار ئې ونیو، او ټول سیستانیان ئې سره متحد کړل، دوی ته ئې مالیات او خراج وبخښل او په ۱۸۵هـ تر بادغیس او پوشنګه  پوري پر مخ ولاړ، او د هرات عربي حکمران عمرویه بن یزید ئې په جنګ کښي وواژه.

تر دې وروسته حمزه دوني قوي سو، او دوني ملګري ئې ومونډل چې ټول خراسان ئې د عباسي دربار کاردارانو ته سور اور کړ، او په هر ځای کښي دده جنګونه د عباسي لښکرو سره جاري وه، او د تاریخ سیستان په قول د خراسان او سیستان او کرمان مالیات د بغداد خزانې ته نه رسېدل، او حمزه دېرش زره غښتلي ملګري درلودل، چې هر غونډ ئې پنځه سوېځ ؤ، او دې شپېتو غونډو په خراسان او سیستان کښي خورا ټکړه مقابله کوله، او د خلافت عباسي لویو سپه سالارانو د حمزه په مقابل کښي  یا ماته کړې وه، یا ئې سرونه بایللي وه. دلته نو  هارون الرشید د بغداد خلیفه پوه سو چې د حمزه مقابله باید په خپله دی وکړي، نو په

۱۸۹ هـ کال ری (اوسني تهران) ته راغئ، اوخپل حکمران علی ئی مصادره کئ، او هغه مالونه چي دې حکمران په خراسان کښي راټول کړي وه پر یو نیم زرو اوښانو باندي د هارون الرشید حضور ته ورسېدل. او دی څلور کاله دلته د حمزه مقابلې ته ناست ؤ، څو چي په ۱۹۳ هـ په طوس کښي مړ او همدلې ښخ سو.

هارون ډېر کوښښ وکړ، چي حمزه په مال او جاه و جلال راضي او د ځان مطیع کي او ده ته ئی یو مفصل خط وکیښ، او دده ټول گذشته اعمال ئی ور وبخښل، او هر څه چي ده په دغو جنګو کښي ګټلي وه هغه ئی ده ته د بخښلو وعده ورکړه، مګر حمزه ددې فرمان په مقابل کښي ځان امیرالمؤمنین وباله، او دا ئی ورته ولیکل چي: "زه د دنیاوي جاه وجلال یا شاهی لپاره ستا سره نزاع نه کوم، مګر ستا د کاردارانو اعمال داسي دي چي خلك ئی تر پزي رارسولي دي، خو سره د دغو خونرېزیو او د مالونو د اباحت او فواحشو چي ستا کارداران ئی لري، ما خلکو ته اجازت نه دئ ورکړئ چي دوی په بغاوت ابتداء وکي او ښايي چي ستا د کاردارانو بد اعمال به په خراسان او سیستان او کرامان کښي له تا څخه پټ نه وي.

زه له تا څخه څه نه غواړم، مګر ستا کارداران له خلکو څخه په ناجائز ډول پیسي او مالونه اخلي، او په ناروا ځایو کښي خرڅوي، نو ما له خدایه سره عهد کړئ دئ، چي خلك به د خدای لاري ته رابولم، که څه هم زما سرپکښي ولاړ سي".

د حمزه له دې جوابه ښکاري چي دی کلك او غښتلئ او دلاور سړی ؤ، او د ظلم او ناروا د دفع کولو لپاره ئی قیام کړئ ؤ، او کله چي هارون الرشید مړ سو، نو ده خپل پنځه زره سپاره وګمارل چي په خراسان او سیستان کښي وګرزي او د مظلومانو څخه د ظالمانو لاسونه لنډ کي، مګر بي سببه جنګ او خونرېزي هم ونه کي. د حمزه د اقتدار سیمه له کرمانه تر سنده پوري او شمالاً د آمو غاړي وې، د افغانستان اوسني ښارونه اکثره دده په لاس کښي وه، هرات، زرنج، بست، نشاپور ئی لوی مرکزونه وه، او غزني، کابل ئی هم نیولي وه، او د تاریخ سیستان په قول ئی په ګردېز کښي د خپلو پیروانو لپاره یوه ټینګه کلا جوړه کړی وه، چي د حدود العالم د مؤلف په قول تر ۳۷۲ هـ پوري لا هم په ګردېز کښي دده پیروان موجود وه، او د حمزه عقاید ئی د کتاب او سنت په پېروي سره خپرول، او د دوی عزم خورا کلك او نه ماتېدونکئ ؤ، ځکه چي په وارو وارو ئی فتح کړی او بریالی سوی دی، مګر دې بري دوی مغروره کړي نه دي، او که ئی شکستونه خوړلي دي خپله حوصله ئی نه ده بایللې، او بیا ئی د عمل میدان ته ځانونه تیار کړي دي.

د حمزه د پیروانو څخه یو شاعر په عربي څو بیتونه ویلي وه، چي د تاریخ سیستان مؤلف ئی رانقلوي، او له دغو بیتو څخه د حمزه د پیروانو کلکه اراده او د دوی د سیاسي مسلك اصالت ښکاري، دا شاعر وایي چي هارون او دده ملګرو خیال کاوه چي موږ به حق په باطل خرڅ کو، ده موږ ته لیك راواستاوه چي و مو بېروي، مګر حمزه داسي سړی نه دئ، چي اوسنی باطل پر آینده حق باندي غوره کي، دی یو داسي امام دئ، چي هر کوږ سمي لاري ته راوړي، او پر دغه خپل پیمان باندي ټینګ ولاړ دئ.

د حمزه اعمال او شخصیت د تاریخ په رڼا کښي د کتني او ستاینې وړ دئ، ځکه چي ده بی سببه د دنیاوي غرضونو له پاره جنګ نه کاوه، او کله چي هارون الرشید مړ سو، او دده لښکر هم ولاړل، نو حمزه هم خپل لښکر د سند او هند خواته د اسلام تبلیغ ته وګمارل، او فقط پنځه زره سپاره ئی په خراسان کښي ددې لپاره پرېښوول چي د ظالمانو د ظلم لاسونه کوتاه کي. داسي ښکار چي حمزه خو یو دلاور او جنګي سپه سالار ؤ مګر د کتاب او سنت هم سخت تابع ؤ، او دا ئی نه غوښتل چي حاکمان له مظلومو خلکو څخه اضافه ستانی وکي، یا مظلوم خلك د ظالمانو تر کوټك لاندي په عذاب ژوند تېر کي. دده دا عقیده وه چي باید په هره سیمه کښي د مسلمانانو د حفاظت لپاره یو امید وي، او د مظلومانو حمایت وکي، نو ځکه ئی ځان هم امیرالمؤمنین باله، او په سیستان او خراسان کښي ئی یو راز سیار حکومت جوړ کړئ ؤ، او په یوه ځای کښي نه کښېنوست، او هر ځای ته به ئی د

مظلومانو حمایت ته ځان رساوه، او دفاعي جهاد ئې پر ځان فرض ګاڼه.

د امیر حمزه د جنګونو او هنګامو داستانونه د خلکو په اذهانو کښې پاته سول، او د هغو څخه ئې عجیبي پهلواني قصې جوړې کړې، او دی ئې لکه رستم یو خارق العاده پهلوان وګاڼه، او وروستنیو مؤلفانو په دری ژبه دغه داستانونه ولیکل، چې دی ئې د حضرت رسول (ص) له اکا حضرت حمزه (رض) بن عبدالمطلب سره خلط او ګډ کئ او دغه عجیب داستانونه ئې تر اوسه هم په خلکو کښې شهرت لري.

د ملل او نحل علماء هم د حمزه دغه فرقه په خاصه توګه پېژني او شهرستاني مشهور د عقایدو او فرقو عالم په خوارجو کښې یوه ډله د "حمزیه" په نامه راښیي، چې دوی خاص عقاید درلودل، شهرستاني حمزه د سیستان د اوق له خلکو څخه ګڼي، چې د حصین بن رقآ له ملګرو څخه ؤ، او د خلك خارجي سره ئې په ځینو عقایدو کښې مخالفت درلود، ځکه چې حمزیه فرقې د دوو امامو وجود په یوه وخت کښې جایز ګاڼه، او د خیر او شر په مسئله کښې هم دا دوې فرقې سره مخالفې وې. د حمزه د وفات تاریخ طبری نه دئ معلوم کړئ، د (۱۸۵ هـ) په حوادثو کښې وايي:

"وفیها عاث حمزه الشاري ببادغیس" عاث په عربي د پرېشان سو معنی لري چې ځینو مؤرخانو به دغه کلمه مات یعني مړ سو ویلې، او دده د مرګ کال ئې دغه بللئ دئ، لکه یعقوبي چې په خپل تاریخ کښې لیکي: چې د علی بن عیسی په حکمراني کښې حمزه په بادغیس کښې حرکت وکئ مګر علی دی تر کابله تعقیب او مړ کئ. نوکه موږ د یعقوبي دغه قول ومنو، باید چې حمزه د ۱۸۰ تر ۱۹۰ پورې چې د علی د خراسان د حکمرانی دوره ده وژل سوئ وي.

مګر ابن اثیر وايي : چې په ۱۹۲ هـ حمزه د عبدالرحمن نشاپوري سره جنګ وکئ، او په ۱۹٤ هـ په هرات کښې ؤ، او لکه چې وویل سوه هارون الرشید په ۱۹۳ هـ ده ته خپل مشهور لیك استولئ ؤ، نو د یعقوبي قول په دغو اسنادو ضعیف دئ.

عبدالحی ګردیزی پخپل زین الاخبار کښې وايي : چې حمزه په ۲۱۳ هـ کال په هرات کښې وژل سوئ دئ، او دغه قول د سیستان د تاریخ مؤلف هم تاییدوي: " و حمزه خارجي روز ادینه دوازده روز ګذشته از جمادی الاخری سنه ثلث عشر ومائتی ببهیش فرمان یافت".

له دې بیانه داسي ښکاري چې حمزه وژل سوئ نه دئ بلکي پخپله مړ سوئ دئ مګر د نهیش کلمه د تاریخ سیستان په خطي واحده نسخه کښې واضحه نه ده، او ښایي چې نهیش وي چې نېش تر اوسه د کندهار او زمین داور تر منځ د غور په جنوبي غرو کښې واقع دئ.

د حمزه تر مرګ وروسته دده پېروانو له ابو اسحاق ابراهیم بن عمیدالجاشني سره بیعت وکئ چې خورا ښه سړی ؤ، مګر حمزه خپلو پیروانو ته وصیت کړئ ؤ چې تهلیل کوونکي مسلمانان به نه ازاروئ، او ځکه چې دده پېروانو دغه وصیت پر ځای نه کئ، نو جاشني له امارته استعفاء وکړه، او دوی په (۲۱۵ هـ) کال ابو عوف بن عبدالرحمن خپل امیر کئ چې دغه سړی د سیستان د کرنګ د کلي ؤ. په دې ډول حمزه لومړنی سیستاني قاید او مفکر دئ، چې په دیني دلایلو او د اسلام او کتاب او سنت د حفاظت په نامه د عباسي دربار په مقابل کښې درېدلئ، او د افغانستان د خلکو د حقوقو په حمایت کښې تر خپله مرګه جهاد کړئ دئ، او د یوه داسي ملي حرکت اساس ئې ایښئ دئ، چې وروسته ددې ځای خلکو د همدغه حرکت په دوام کښې خپل ملي استقلال موندلئ دئ.

(۲)

# د خلکو پالنه

زموږ دوهمه مرکه د تاریخ پر یوې خورا دلچسپې پاڼي باندي ده، چي پخوانو مشرانو څنګه د خلکو اکثریت او د مملکت کرونکي ډله پالـله؟ او دوی ته دا ښکاره سوې وه، چي د مملکت اصلي خدمتګاره طبقه همدغه بزګران او دهقانان دي.

په پخوانی افغاني ټولنه کښي دې ډلي خورا اهمیت درلود، او کله چي آریایي خلك د پوند ګلوی له ژونده څخه په کلو او اورشوګانو کښي استوګن سول، نو دوی زراعت ته توجه وکړه او هم له دې جهته د دوي په قدیمو دیني کتابو کښي د مځکي د کرلو او آبادولو او د غویو د پاللو او ستایلو له پاره ډېر امرونه او تشویقونه موجود دي.

پادشاهانو او د سیاست او اداري خاوندانو او رهنمایانو چي اجتماعي او اداري کارونه ئې په لاس کښي وه او اقتصادي منابع هم دوی پاللـه تل به ئې د کلو د بزګرو په آرامی او خوشحالی کښي کوښښ کاوه، او د دوی تکلیفونه به ئې ایسته کول، او د ژوند بارونه به ئې ور سپکول. چي زه دلته ځیني تاریخي واقعیتونه په دي

## خبره رانقلوم:

د طاهریانو کهول زموږ په تاریخ کښي لومړني شاهان دي، چي په اسلامي دوره کښي لومړی پلا په خراسان کښي مستقل سلطنت جوړ کړئ، او ددې خاندان لومړی پادشاه طاهر په ۲۰۵ هـ کال د استقلال بیرغ د هرات په پوشنګ کښي درولئ ؤ، چي اوس ئې غوریان بولو.

پخپله طاهر یو هوښیار او دلاوراو ضابط پادشاه ؤ، چي ټول خراسان ئې فتح کئ، او خلك ئې د عدالت او امنیت په سیوري کښي آرام کړل. او تر ده وروسته ئې زوي عبدالله پر ځای کښېنسوت، چي له ۲۱۳ څخه ئې تر ۲۳۰ هـ کاله پوري اولس کاله شاهي درلوده، دی مقتدر او عالم او رعیت پالونکي لوی پادشاه ؤ، او مطهر بن طاهر مقدسي پخپل کتاب البدؤ و التاریخ کښي داسي کاږي: " کله چي عبدالله د خراسان پاچا سو نو ددې مملکت په سرحد کښي پر یوه غونډۍ وخوت او خلك ئې راوبلل او داسي ئې ورته وویل:

"ای خراسانیانو! تر هغه وخته چي تاسي ونه ساتم، نو مالیه نه در څخه غواړم".

په دې وجیزه کښي د حکومت مسئولیت او د خلکو د وظیفي فلسفه ښوولي سوېده ، چي هره اداري ډله هغه وخت د مالیي اخیستلو حق لري، چي د خلکو ځان او مال او حقوق وساتي، او دا لنډه خبره د یوه پادشاه له خولې د خراساني سیاسي روایاتو قدیم اصالت راښیي.

دغسي هم د وطن بل مؤرخ عبدالحی ګردېزی په زین الاخبار کښي لیکلي دي چي: " په اسلامي فقه کښي د کارېزو د زراعت احکام نه وه او څګکه چي د خراسان زراعت اکثر کاریزي ؤ، نو عبدالله د خلکو د مشکلاتو د ایسته کولو لپاره د خراسان ډېر فقیهان او عالمان سره راټول کړه چي دوي د کارېزو پر احکامو باندي یو کتاب وکیئ." او دا په اسلامي دروه کښي لومړی د خراسان زرعي قانون ؤ، چي د عبدالله په حکم دلته د بزګرانو او خلکو د هوساینې لپاره ترتیب سو.

عبدالله د خراسان لوی او دانشمند پادشاه د بزګرانو د پالني او روزني لپاره ښه کارونه کړي دي، او دغه ګردېزی مؤرخ لیکي

چي ده خپلو ټولو کاردارانو ته په ټول خراسان کښي داسي یو فرمان صادر کړئ ۇ چي پښتو ترجمه ئي داده:

"زه تاسي ته اخطار درکوم، له خوبه ویښ سئ! او خپله خیرگی پرېږدئ، دځان ښېگڼه وغواړئ! او دمملکت دبزگرانو سره ښه کوئ! هغه بزگر چي ضعیف سي، تاسي ئي قوت سئ، او بیرته ئي پر پښو ودروئ! دوي هغه خلك دي، چي تاسي ته ډوډئ درکوي، او تاسي ته هرکله سلامونه هم کوي، نو واورئ چي پرداسي خلکو باندي ظلم کول حرام کار دئ".

دا وه د عبدالله بن طاهر د سیاست او اداري دوه مثالونه چي ما دلته له دوو ربښتینو مؤرخانو له قوله رانقل کړل.

کله چي موږ د قدیمو مؤرخانو او جغرافیاوالو کتابونه گورو، نو دوي وایي چي خراسان د دنیا خورا آباد او زرغون او معمور ځای ۇ. او ددې ودانی او پراخی او سمسورتیا علت هم دا ۇ چي حکمرانانو او مشرانو ئي دغسي پاخه او درانه فکرونه درلودل، او د خپل مشرتابه اساس ئي هم پر عدالت او انصاف او رعیت پالنه باندي ایښئ ۇ.

دا خو د دوي قول او خبري وې، مگر دا هم ښکاره ده، چي په جهانداری کښي یوازي خبري او نصیحتونه او سپارښتونه کار نه کوي، بلکي د مشرتابه له اهمو شروطو څخه دا هم ده، چي یو مشر باید خپله خبره عملي هم کي، او یوازي پر وینا باندي ویسا ونه لري. تاریخ د بشر د اعمالو یوه رڼه هنداره ده، او دا رابښیي چي د پخوانو اقوامو او ټولنو په لوړتیا یا ځوړتیا کښي کوم کوم عوامل دخیل وه؟ او د دوي د ژوندانه لاري چاري څنگه وې؟ حاکم او محکوم څنگه ژوند سره کاوه؟ او که کوم فکري یا مدني او اجتماعي حرکتونه پېښ سوي وي، د هغو تحلیل د تاریخ د حتمیت او فلسفې پر اساس څنگه کېدای سي؟

داسي ښکاري چي په اسلامي دوره کښي هم د خراسانیانو د اجتماع اساسي ډله کرونکي او بزگران وه، چي دوي په کلو او دهکدو کښي اوسېدل، او د خلکو د ژوندانه بیخي لوی مدرك او منبع هم کرنه او زراعت ۇ، چي د دولت د مالیاتو او اقتصادي عایداتو سرچینه هم هغه څه وه چي دهقانانو به دولت ته د مالیي او خراج په توگه ورکول، یا به د زراعتي محصولاتو څخه د خوړلو یا خرڅولو یا صنعت او حرفت لپاره مواد تهیه کېدل. نو ځکه بزگران او دهقانان د خراساني ټولني د شمزئ په څېر وه، او اکثر اجتماعي او فکري او انقلابي حرکتونه هم په دوي کښي پیدا کېدل. او که به چا د آزادی له پاره غورځنگ کاوه، نو به ئي ضرور له دې ډلي څخه کومك اخیست، ځکه چي په طبقاتي لحاظ هم دغه ډله یوه متشکله او منظمه ټولی بلله کېده. نو حکم داران او پوه امیران هم ناچاره وه چي په خپلو اعمالو او اداري او انظباطي کارونو کښي ددې طبقي فکر له ځانه سره ولري، او ددوي د آرامی او هوسایی لپاره خاصه توجه وکي.

که موږ د اوسني عصر د دولتو بودجي او مصارف وگورو، یا د دوي پلانونه او پروژې مطالعه کو، نو به ضرور د زراعتي کارونو او زارعینو د پالني او ساتني لپاره، غټ غټ مبلغونه ووینو، او ښایي چي دا دنوي عصر دعلم او پوهني برکت وگڼو، مگر په خراسان کښي دا کار زر کاله پخوا هم دغسي د دولت له خوا کېدئ، او دا کار یو نوی تجویز نه دئ.

پخوانو حکمرانانو او جهاندارانو لکه پخپلو خبرو او فرمانو کښي چي زارعه طبقه په ښه سترگه لیدله، او د دوي حمایت به ئي کاوه، دغسي هم په حکومتي مصارفو کښي د کرني او زراعت لپاره یوه غټه برخه ټاکله کېده، او ډېري دولتي پیسي به د زارع د کار د ښېگڼي او سموني لپاره مصرف کېدې.

دلته زه د تاریخي اسنادو په رڼا کښي یو مثال راوړم چي د تاریخ سیستان نامعلوم مؤلف پخپل کتاب کښي را نقل کړئ دئ، او دا د افغانستان د یو قدیم ولایت یعني سیستان کالنی بودجه ښیي.

دا مؤلف ددغه ولایت د یوه کال ټول مالي عایدات پنځه ملیونه او درې سوه اوه نوي زره درهمه گڼي چي ټول نژدې ۱۵ ملیونه

افغانۍ کيږي. او له دې مبلغه څخه دوولس مليونه مصارف او درې مليونه پس انداز ؤ.

همدغه مؤلف د سيستان د بودجې ټول مصارف قلم په قلم ښکيي، او وايي چې د زراعتي چارو يعني آبيارۍ او بند تړلو او ولو کينلو او پلونو جوړولو لپاره دوه مليونه يو سل او نه دېرش درهمه يعني په اوسنی حساب شپږ مليونه افغانۍ مصرف کېدې، چې د ګرده بودجې نيمه برخه کيږي.

وګورئ چې د بزګرانو د زراعت لپاره پخوانو خلکو څونې ډېره توجه کوله؟ په دې بودجه کښې د اداري چارو او قضا او پوليسو او ديني امورو او جنګي چارو او دفاعي او امني کارو او حتی د حکمدارانو د معاش لپاره هم مبالغ ټاکل سوي دي. مګر د زارع او دهقان د کارو لپاره د ولايت نيمه بودجه تخصيص سوې وه، او همدغه سبب ؤ چې په هغه وخت کښې سيستان د ايشيا يوه ودانه او سرسبزه او سمسوره سيمه وه. او دا ښايي هغه وخت ؤ، چې يعقوب صفاري د سيستان د کلي والو او عيارانو په همت، دلته آزاد ملي حکومت جوړ کړئ ؤ.

په تاريخ کښې داسي ډېر نور مثالونه هم ليدل کيږي چې د خلکو د اړتيا او لوږي او ناداری پر وخت به له دوی سره حکمدارانو او بډايانو کومکونه کول، او حکومتونو به دا خپله وظيفه ګڼله چې اړ خلک له محتاجی څخه وژغوري، او د دوی دردونه ور درمل کي، مثلاً د تاريخ سيستان مؤلف ليکي چې په ۲۲۰ هـ کال په بست کښې د هلمند اوبه وچې سوې او سخته کاختي وه، او په سيستان کښې د هلمند د اوبو د لږوالي په سبب ډېر خلك له لوږي مړه سوه، ددې ځای حاکم دغه احوال عبدالله بن طاهر ته وکيښ.

عبدالله داسي يو فرمان صادر کئ، چې درې سوه زره درهمه له بيت الماله يعني د حکومت له خزانې څخه راوباسئ، او هغه د يوه هيئت په وسيله په خوارانو او دهقانانو کښې ووېشئ.

په شاعري کښې هم اجتماعي احوال انعکاس کوي،او شاعر د خپل محيط ښيخي ښه ترجمان دئ، ځکه چې په ټولنه کښې د عامو خلکو سره د ښو کولو لپاره ډېر ضرورت موجود ؤ، نو د اکثرو شاعرانو په کلام کښې هم حکمدارانو او خلکو ته ددې لپاره سپارښتونه سوي دي، چې دوي د خلکو سره تل مدارا او شفقت او مهرباني ولري، او ظلم و ستم پرېږدي زموږ اکثر شاعران داسي نصايح لري،مثلاً خوشحال خان خټك د نورو خلکو خدمت او د خوږو زړونو دارو کول د "مردانو" يو بشري ښکلی خوی ګڼي او وايي:

وکړي واړه کارونه خپل کا

مردان هغه دي چې کار د بل کا

څوك چې آرام ګټي، د نيکو نام ګټي

د خوږو زړونو، دارو به تل کا

مولانا عبدالرحمن جامي د خراسان لوی شاعر داسي ويلي دي:

مکن انـدر کشش خلق شتاب   که تاءنیست درین کار صواب

گوش بر قصه محتاجان دار   کار حاجت طلبان زود گـذار

تـا بــود حاجـت حاجـتمندان   نیست خوش، طاعت دیگر چندان

کله از عدل وقبا جوی ز داد   بر تو این نکته فراموش مباد

زانکه آبادي ملك از عدل است   وزغم آزادي ملك ازعدل است

تـا رعیت ز مـلــك شاد نشد   مـلـك از سعـی وی آبـاد نشد

د جامي له کلامه ما دا یو مثال ددې لپاره راوئ چي زمونږ په وطن کښي د عامو خلکو د رفاه او هوسايي لپاره د پوهانو او مفکرانو له خوا هم یوه دایمي سعیه جاري وه، او دوي به همېشه د خوارانو او بې وزلانو او بزګرانو حمایت اوکومك ته نور تشویق کول. او دا هغه وخت ۇ چي د نوی عصر افکار لا نه وو پاخه سوي، د خلکو د روزني او پالني مدني او عصري قوانین لا نه ۇ موجود سوي، مګر زمونږ په وطن کښي ددې کار لپاره زاړه عنعنات موجود وه(۱)

(۱) وږمه مجله، د ۱۳٤۸ ل کال د حمل او ثور ګڼه ص ۱